






محب الرحمن « خطیبي »

د نشر نیټه : ۲۱ اګست ۲۰۱۳ میلادی

# سفر مکوه

په ما غوارې هر څه وکړه نو حذر مکوه‌که
غماز دښمن ټول به تعنی کړی ته سفر مکوه

اوس چه ژوندی یم راته ښکېنه دیدار دی وکم
بیا پښیمانه زما په مړی شوروشر مکوه

هر څه دی وکړلو په ما باندي ما زغم کولو
په مات زړګی مې بیا له قهره تور محشر مکوه

اوس چه روانه ي او ځی دا ټول پما تیرېږی
چه شوی پښیمانه زما له قبره بیا ګذر مکوه

هسی سوری دی دا زړګی زما دستا له غمه
وینی تری څاڅی ته خو بیا لاس په خنجر مکوه

(محبه) بس که نور ګیلي دیار اولس ته مکړه
ګاله دردونه ټول اولس نور پری خبر مکوه

*****

محب الرحمن « خطیبي »

بازگشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org

هره لیکنه د لیکوال خپل نظر دی او خپله دلیکوال اند څرګندوی
استفاده از مطالب سایت « ارگان نشراتی صلح و تفاهم مولانا سعید افغانی » با ذکر مأخذ آن آزاد است